مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۲۶/۰۶/۰۵

# د ځدراڼو ځدراڼۍ لهجې لیکبنه وپېژنئ

## د پښتو ژبې ډیالیکټونه یا ګړدودنه باید وپالل شي او همدارنګه د لیکبنو ډولونه يې خوندي کړل شي

د پښتو ژبې په سلګونه لهجې یا ګړدودنه او د پښتنو په سلګونه ټبرونه یا قبیلې د لرغوني آریايي خپلواکې پښتو ژبې مهمې څانګې، پانګې او زېرمې جوړوي. ډېرې لهجې د یوې ژبې د لغوي زېرمې په بډاینه کې مهم رول لوبوي. ګړدود یا لهجه د یوې ژبې یو سېمه ییز ډول دی. لهجې نه باید له پامه وغورځول شي یا څنګ ته ټېل وهل شي او یا ترینه تېر شو. همداراز لهجې باید ,,غوره یا بدې,, ونه ګڼل شي، بلکې ترینه په یوه معیاري پیاوړي جګه ژبه کې او د ژبنې تنوع په برخه کې کار واخیستل شي، تر څو تر ډېره بریده له پردیو تورو پرته خپله نګه او کره ژبه جوړه کړو. یوې جګې یا کره ژبې ودې ورکولو ته د نړۍ په ډېرو نورو ژبو کې له ګړدودونو څخه وده کړل شوې ده. ګړدودونه باید له معیاري جګې ژبې څخه بېل وسائل شي او پالنه يې هم وشي. همداراز جګه یا کره معیاري پښتو له لهجو څخه بیله وسائل شي. په بله وینا هر پښتون افغان باید خپله سېمه ییزه لهجه وساتي او ورسره جګه پښتو ژبه له وړکتونه تر پوهنتونه زده کړي.

کره پیاوړې جګه ژبه د پیاوړو لوړو زده کړو پوهانو په کچه وي. دغه بهیر په کورنۍ چاپېریال کې د ماشومانو په لومړني ښوونځۍ کې چېرې چې د دوی شخصیت جوړېږي پیل کیږي او دویم پړاو يې په ښوونځي کې چې په هغه کې ژبه او پوهنه زده کیږي، ژبه خپلې اکاډمیکې، پوهنیز پړاونو ته رسیږي. ماشومان ژبه له لویانو څخه زده کوي، له یو نسل نه بل نسل ته ورکول کیږي، لویان باید د ماشومانو د ژبښود، لیکدود او د کره پښتو لېږدولو یا انتقال او امانت ورسپارلو کې بې غبرګونه پاتې نه شي، باید په کور کې ډېره پاملرنه ورته وکړي.

ژبه د انساني روح تول خواک دی. ژبه په چوپتیا کې جوړېږي، پرته له پښتو ژبې څخه زموږ افغاني ملي هویت، ادبي شهکارونه او ملي ویښتیا ناشونې ده. ژبه زموږ د پوهې افقې پولې جوړوي.

لهجې زموږ د کولتوري هویت یوه مهمه برخه ده. لهجې ښیي چې دا سړی له کومې سېمې او ځای سره تړاو لري، څنګه کولتوري ژوند کوي، او په لهجه کې د یوې سېمې تاریخ لیدل کیږي. لهجې ژبې ته تنوع او رنګ ورکوي. دا روښانه کوي، چې دا ژبه ژوندۍ ده او په دوامداره توګه وده کوي. لهجې د یوې ژبې ځانګړې ډولونه دي، چې په ځانګړو سېمو کې ویل کیږي. د بېلګې په توګه د لویې پکتیا په زړه کې د ځدراڼو ځدراڼۍ ګړدود یا ډیالیکټ چې د پښتو ژبې د پیریو پیریو ژبنېزه وده په کې منعکسه کیږي او په دې لېکنه کې د ځدراڼو ځدراڼۍ لهجه باندې تمرکز کیږي. ځکه نن سبا ډېر خلک خپله لهجې بیا راسپیړي، وده ورکوي او په دې ویاړي چې خبرې پرې کولې شي.

## د ګړدود او معیاري ژبې ترمنځ توپیر

لهجه یا ګړدود د خبرو کولو یو ډول ته ویل کیږي او لهجه په سېمه ییزه توګه محدود ده، د بېلګې په توګه یوازې په یوه ځانګړې سېمه کې ویل کیږي. لکه ځدراڼۍ د ځدراڼو په سېمه کې ویل کیږي. ډېرۍ وختونه په عمده توګه په شفاهي ډول کارول کیږي. خو نن ورځ ځدراڼۍ لهجې لیکل کیږي. لهجه هیڅ ثابت فورم او ګرامري یا لیکدودی قواعد نه لري. کیدای شي د نورو ګړدودونو سره د پاموړ توپیر ولري. د پښتو ژبه لهجې او لهجوي توپیرونه لري.

معیاري یا کره پښتو ژبه هغه ده، چې په ټولو سېمو کې د پوهیدو وړ وي، د بېلګې په توګه معیاري پښتو ژبه په یو شان تنظیم شوې ګرامر او لیکدود یا املا لري. په ښوونځیو، رسنیو، رسمي دفترونو، خبرتیاوو او رسمي غونډو کې کارول کیږي. د اړیکو لپاره د یو عام اساس په توګه کار کوي. اکسنټ یا تلفظ د ژبې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

يو متفاوت غږ ته ويل کيږي. د بېلګې په توګه ,, هغه په پښتو تلفظ سره په الماني ژبه خبرې کوي. لهجه په بل ډول خبرې کولو ته ويل کيږي. لهجه د يوې ژبې يوه ځانګړې سيمه ييزې بڼې يا فورم ته ويل کيږي. يو اکسنټ يا لهجه په عمده توګه تلفظ يا بدلوي او يو ګړدود عموماً کلمې او ګرامر بدلوي.
په لنډه توګه لهجه يا ګړدود د خپل وطني سيمې ژبه او معياري ژبه د هر چا لپاره ګډه معياري ژبه وي. دواړه ژبې مهمې دي، د هويت او تنوع لپاره لهجې، په پراخه کچه د اړيکو لپاره معياري ژبه ده. ګړدود د يوې ژبې سيمه ييز ډول دی. لکه په لوی افغانستان کې کندهاری، پېښوری، ننګرهاری او د پښتو ژبې منځنۍ لهجې يادولې شو. د ځدرانو ګړدود يا ځدروڼی هم د منځنۍ لهجې يا د کړلاني لهجې په ګروپ کې شامله ده.

## ولې لهجې رامنځته کيږي يا وده کوي

لهجې څکه رامنځته شوې، پخوا خلکو ډېر لږ سفرونه کول يا ګرځيدل. همدارنګه جغرافيايي انزوا، تاريخي پرمختګونه او د نورو ژبو يا کولتورونو اغيزې يادولې شو. افغانستان د غرونو او د لويو اوږدو درو هيواد دی. غرونو او درو له عرضي جغرافيايي پلوه د ولسونو سيمې سره جلا کړې دي او پښتو ژبې په مختلفو سيمو کې بېلا بېلو ډولونو يا لهجو ته وده کړې ده. لهجې هم په داومداره توګه بدليږي، څکه چې خلک يو بل سره خبرې کوي، کډوالېزه خوځښتونه رامنځته کيدل، کډوال بيرته خپلو سيمو ته ورستانه کيدل او همدارنګه نوی معياري ژبه راڅرګنديدل. وسمهال تقريباً همدغه اغېزې او حالت موږ په افغانستان کې وينو.
څنګه لهجې بايد وساتل شي. لهجې هغه وخت ژوندی پاتې کيږي، کله چې په ورځېنې ژوند کې ويل کيږي. ماشومانو ته ليږدول کيږي، او په شعوري ډول په کورنۍ چېرپال کې، د ملګرو په ناستو کې او د ځانګړې لهجې په ټولنه کې کارول کيږي. د خپلې قبيلې له وګړو سره، همدارنګه په ښوونځيو او کولتوري ناستې هم مرسته کولې شي. د ژبنې ادبي تياتر، د سيمه ييزو کلمو پاللو پروژې، د لهجې ساتلو ټولنې، ښوونيزه پروګرامونه، کوم چې د لهجو ارزښت نه راکموي، بلکې طبقه بندي کوي او د لهجې ساتنې ته وده ورکوي.
په کورنۍ چاپيريال کې په هوښيارۍ سره په خپله لهجه کې خبرې وکړئ. د مشرانو او سپين ګيرو خبرې واورئ او ځانګړې خبرې وليکلئ، لهجې په سندرو، کيسو او ډرامو کې وکاروئ. سيمه ييزه محاورې راټولې کړئ او په ليکلې بڼه کې تشريح کړئ. هيڅکه لهجې ته ,, غلط,, په توګه نه، بلکې د کولتوري هويت د يوې برخې په توګه ورته وګورې. پرې خندل اصلاً جايز نه دی او اجازه نېشته.
لهجې زموږ د کولتوري ميراث يوه ارزښتناکه برخه ده. د لهجو ساتنه د معياري ژبې ردولو مانا نه لري، بلکې د يوې ژبنې تنوع ساتل دي. د ژبې يو سالم کولتور کولی شي دواړه يووالي او تنوع ترلاسه کړي.
سربېره پردې لهجې ټولنيزې دندې هم ترسره کوي. د لهجې ويونکو ترمنځ د خپلوي تړاو احساس ,, د موږ احساس,, رامينځته کوي. ګړدودونه، د خلکو محاورې او د فکر کولو لارې چارې له يوه نسل څخه بل ته ليږدوي. د پښتو ژبې ګړدودنه په ټولېزه توګه ژبه ,, پښتو ژبه,, بډايه کوي.
له همدې امله د ټولنيزې ژبپوهنې څانګې د ژبو د مستند کولو او ساتنې سره تړاو لري. د دې ساتنې او پاملرنې پرته، ډېرې ژبنېزه ګړدودونه د نړيوالتوب او په کره ژبو کې لوړ کيفيته رسنيزې خپرونې د خپرولو له امله ورو ورو ورکې کيږي.
موږ بايد د پښتو ژبې له بېلا بېلو ګړدودونو څخه يوه پياوړې جګه، نګه پر ژبپوهنېزو اصلو ولاړه او ټولو ته د منلو وړ، خوږه، پسته کره ژبه رامنځ ته کړو. ژبه تل په اوښتون کې وي، د پښتو ژبې کره کېدل د يوويشتمې پيړۍ او د نوي عصر يوه غوښتنه ده.
د ژبې او فکر تر منځ اړيکې ايا دا کېداې شي چې بې له ژبې فکر وشي، بې له ژبې اصلاً ناشوني ناشوني ده، چې فکر وشي. ايا موږ فکر کوو، کله چې موږ ګړېږو، او يا دا چې موږ په ورځنې ژوند کې د ور ځېنې ژبې پر ځاې په جګه کره ژبه خبرې وکړو، داسې مالوميږي، چې ډېر جدی حالت رامنځته شوې دی يا يو بدلون تر سترګو کيږي، توپير دا دی، چې يوه ژبه د لوستو پوهنتوني روڼاندو او بله ژبه د نالستو کيلواله ده. په معياري جګه ژبه کې سرۍ د ورځېنې ژبې نه په ډېر څه پوهيږي، په همدې وجه جګه ژبه ځان ته ارزښت ورکوي، په زړه پورې ښکلې غږ او تلفظ يا ويانګ لري.
د دې لپاره چې د ځدرانو ګړدود ليکبڼه په سمه او ښه بڼه کې دلته وړاندې شي، چې ځدراڼ څنګه په خپلو کې په خپله ځدرانۍ لهجه کې غږيږي. البته د يادونې وړه ده، چې ښايي د ځدرانو په ځينو ښاخونو کې د ځدرانو ګړدود بيا هم لږ څه توپير ولري. خو په ټولېزه توګه په دې ليکنه کې تر ډېره بريده هڅه شوې، چې د خوست ولايت شاوخوا ځدرانو ګړدود وړاندې کړل شي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

## د ځدروڼو ځدرانۍ لیکبنې پیژندنه

ځدراڼ د پښتنو په کرلاني ټبر کې شمېرل کیږي. د ځدراڼو لهجه یا ډیالېکټ د پښتو ژبې د سوېلي/ منځنۍ لهجې یوه مهمه او ځانګړې څانګه ده، چې د پکتیا، پکتیکا او خوست ولایتونو د ځدراڼو مېشتو سېمو کې ویل کیږي. دا لهجه د خپل خوږوالي، لرغونتوب، نکتوب، ځانګړتوب او ځانګړو تلفظونو له امله د پښتو په نورو لهجو کې خپل ځانګړی ځای او اهمیت لري. د ځدراڼو لهجه د پښتو ژبې یوه له خورا پخوانیو او په زړه پورې ګړدودونو څخه ګڼل کیږي.

د ځدراڼو ډیالېکټ ګرامر ښودلو او روښانتیا لپاره دلته د ځینو مهمو ځدراني ټکو بېلګې او د تلفظ توپیر وړاندې کیږي.

د ځدراڼو لهجه د پښتو ژبې د سوېلي/ختیځو ګړدودونو یوه ځانګړې او لرغوني خوږه لهجه ده. دا ګړدود د نورو پښتو لهجو په پرتله د پښتو د (ښ/ ږ,, او ,, ړ/ ڼ) تورو په ځانګړي تلفظ او په ځینو کلمو کې د خپل ګرامري بدلونونو له امله پیژندل کیږي.

د ځدراڼو لهجې ځانګړنه د دوی د غرنیز ځبګ ژوند او کولتوري ځانګړتوب له امله ډېره پیاوړې او د خولې د ویانګ یا تلفظ په برخه کې ډېره ګرانه لهجه هم ده. چې هر پښتون سم پرې پوهېدلي هم نشي. خو ځیله یوه ځدراڼ ته ځدرانۍ لهجه ډېره خوږ پسته او ښکلې ده. د زړه ژبه تل مورنۍ ژبه وي، زما د زړه ژبه زما مورني ځدرانۍ لهجه ده. ځدرانۍ لهجه د لویې پکتیا د ټولو قبیلو او ګړدونو په منځ کې رامنځته شوي یوه لهجه ده او د سېمې له نورو ګړدودونو سره اړیکې لري. ځدراني د لویې پکتیا او د ټولو پښتنو په زړنو کې رالویه او ساتل شوې لهجه ده.

ځدرانۍ لهجه د کرلاني ټبرونو پورې اړه لري، لکه د وزیرو او اپریدیو قبیلو او د پښتو منځنۍ لهجې په واوېزه ګروپ کې ورګډیږي. په دې مانا چې د ابېڅې (الفبا) توری په کې په ( ي / و ) بدلیږي. لکه (ورور، سبا، کتاب، پلار، خوشال، ځای او لاړ ) په ځدرانه لهجه کې (وربر، کېتوب، سبو، پلور، خشول، ځوی او لوړ ) سره تلفظ یا ویل کیږي. همدارنګه په ځدرانۍ لهجه کې مجهول ( و) په مجهوله (ې) بدلیږي یا تلفظ کیږي. د بېلګې په ډول (ګوره) په (ګیره) او (موږ) په (مېږ) تلفظ کیږي. معروف ( و ) په معروفه ( ی ) بدلیږي. لکه (درومي) په (دریمي) (خوست) (خېست) یا (نوم /ناف) په (نېم) تلفظ کیږي.

په ځدرانه لهجه کې (الف) چې د یوې کلمې په منځ او پای کې راغلی وي، هغه په ( و ) بدلیږي لکه: (بازار، کار، کارخانه، ملا، کال، پلار، کابل، ځای، باغ) په (بزور، کور، کورخونه، مولو، کول، پلور، کوبل، ځوی، بوغ) ته اړوي او همدارنګه کله چې ( و ) د کلمې په منځ کې راشي هغه په ( ی ) بدلیږي. لکه: (لور، مور، بنو، لوند، توت) په (لیر، مېر، بني، لیند، تیت) تلفظ کیږي.

همدارنګه ( کور/ کیر)، (کوټه/ کیټه)، (اور/ یر) (اوره/ یره)، (لړمون/ لړمین) ( زوم / ځیم باندې بدلیږي.

د پکتیا لهجه: دا لهجه هم د مرکزي لهجې په کتار کې راځي، خو ځینې ځانګړې نښې لري. د بېلګې په ډول ځدراڼ د (راځه، ځي) په ( رڅه، روشه، څوي) باندې تلفظ کیږي. په یوه بېلګه او په یوه غونډله کې د جګې یا کږه پښتو او ځدراڼو لهجې ترمنځ توپیر پرتله کیږي.

کره پښتو: موږ نن ګهیځ د غره لمنې ته ځو. دغه جمله د ځدراڼو لهجه کې ,, مېږ نن ګهیځ د غره لمنې ته څو. دلته د موږ/ پر ځای مېږ) د (ځ / پر ځای څ) کارول کیږي.(

د ځدراڼو لهجه (ځدرانۍ) د پښتو ژبې د ختیځې ځانګې اړوند یوه مهمه په زړه پورې لهجه ده او خپل ځانګړی خوږلت لري، چې د خپل ځانګړي فونولوجیکي، یا " د ژبې د ننه د غږونو ترتیب او فعالیت، د "مورفولوجیکي یا" د کلمو بهرنۍ بڼه، د جوړښتي جوړښت یا شکل بیانولو" او لغوي نظم له مخې پیژندل کیږي. د پښتو ژبې دا لهجه د غږیزو بدلونونو له پلوه ځانګړې ځانګړتیاوې لري. په ځانګړي ډول د ,, ښ,, فونیم چې په ډېرو مواردو کې د ,, خ,, یا ,, ش,, ته نږدې غږیز بدیلونه اخلي.

له مورفولوجیک پلوه، په ځدرانۍ لهجه کې د افعالو صرفي جوړښتونه او د نومونو د جمع کولو طریقې له معیاري پښتو سره په څرګنده توپیرونه لري، چې دا توپیرونه د دې لهجې خپلواکه ګرامري بڼه هم ښیي.

سربېره پر دې، د لغوي زېرمې له اړخه دا لهجه د ګڼ شمېر لرغونو او اصیلو پښتو ویبونو ساتونکې ده، چې د پښتو په نورو لهجو کې یې کارونه لږ شوې یا له منځه تللې دي.

په ټولیز ډول، ځدرانۍ لهجه د پښتو ژبې د ژبني تنوع، تاریخي دوام او کولتوري بداینې یوه مهمه او ارزښتناکه برخه بلل کیږي.

د لهجو د ساتنې لپاره یو مهم فکتور په ورځني ژوند کې د هغوی فعاله کارول دي. ژبه یوازې هغه وخت ژوندی وي، کله چې ویل کیږي یا څېړک ویش وېوونکې ولري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

بله مهمه برخه د عصري رسنيو د لهجي کارول دي. لکه په مصنوعي ځېرکتيا کې، لهجې بايد زاړه نه وي – برعکس وی: دوی کولی شي د تولنيزو رسنيو، پوډکاسټونو يا ويډيوګانو له لارې نوې پاملرنه ترلاسه کړي. کله چې ځوانان په ډيجيټلي بڼو کې لهجې کاروي، ژبه عصري کيږي او اړونده پاتې کيږي.
د دوی ساتنه په عمده توګه په ورځني ژوند کې د دوی د ويلو او راتلونکي نسل ته د ليږدولو پورې اړه لري. ښوونځي او د ژبو ادبياتو پوهنځي کولی شي د پروژو او تخليقي کارونو له لارې لهجو ته وده ورکړي.
په دې موخه چې ځدروني لهجه دلته په سم توګه وړاندې او وپېژندل شي. د بېلګې په ډول په هوټل کې دوه ځدروڼ په خپله ځدروني لهجه يا ګردود کې غږيږي. ښايي دا لومړی ځل وي، چې په دې بڼه کې ځدروني لهجه ليکل کيږي او د ځدرانی لهجې ساتلو لپاره په لاندې ډول يوه محاوره وړاندې کيږي.

## په يوه هوټل کې دوه ځدروڼ نوست دي او په خپله ځدرونه لهجه کې سره غږيږي:

خان زرک: ستړي مه شې، جوړ پخير، خرګې يې، ومنه چې زه خو نن ډېر خشول شوم، چې ته مې ډېر وخت بد بيا ولدي. ته کله د وطنه روغلي يې.؟
زرخان: ته ستړي مه شې، خير يوسې، زه ښه يم، ته خپله ښه يې، خولخونه، دې ښه دو، زه ايس دا څې وريځې کيږي، چې د ګېډه ورې نه خپست ته، د خپست په ليار کوبل ته او بيا د کوبل نه داسې جرموني ته په جبز کې روغلي يم. قسم دی، چې کله مو دولته په هوټل کې ته ولدلې، سخت درته خشول شولم، چې خپل ځدروڼ مي د جرموني په دغه ستر ښار کې پيدو کا او وليد. د تو تپلي هغه زړې کېسې، هغه خوږې جمعې، هغه په کلي کې زړی توکي، خندوې او هغه ويروني لبېي مې تپلي بيا په يود شولې.
خان زرک: ښه ډېر ښه ته ايس د دې جمع روته وکه، چې په خپست کې او په کلی کې څه کيسې وې.
زرخان: خپست کې شکر خيرو خبريت و. د خپست بزور ښه په درځ کې روون دی. د خپست دېکنېنه تپل د نيو سامني نه ډک دې، بزور کې چې هر شی وغوړوې، هغه په کې پيدو کيږي. خلک ښه خشول په کې ګرځي. هره وريځ د لرې لرې ځوېنه عبن د ګولمخون نه داسې تر ګردې ځېرې پيرې خلک د خپست بزور ته په سودو پسې ارځي. په ځپست بزور کې هره ورځ د خلکې، د مېټرې بېروبار او رش وي.
خپله خپست تک شين ويلوړ دی، ښکلی پيجوه، هوو لرې، تک شين اسمون لرې، د شپې ملې په اسمون کې غوټ غوټ ستيرې ميلوميرې. سړ کول ويرې کې په ګېدوره کې او په تپل خپست کې فصلينه ښکلی تک شينه ويلوړ دې، شپلې، غنم، جوور، اوربشې، شوتلې ښی پيرماني په کې شنې شوې دې. وريڼګې ښی ډېرې پريموني په کې وريږي، غووې، پسينه، وزې، چرګې په کې کيځ پوس مرې ګرځي، نيني په کې تيلوي ښې په کې مربېږي. ښه پريمون او ارزون بيز په کې خرځيږي. کيځ په لګډ کې هر وخت توينه ښه ډک ډک بهيږي. اوبه ښيې ډېرې پرموني دي، د مېړ فصلينه ښې په اوبې کې پنه کيږي، کوردورن شپه ورځ په خپلو پتپو کې کورينه کې، څوک يووې کې او څوک بوغينه پنه وي. په وني کې ښې خوږی منې، خوږه انګيرې او خوږې ملتې کوړې وي. کله چې توی روشې، خلک په توی کې مېټرې مېټرې لرګې ارنيسي.
خان زرک: ده خو ډېر ښه خبرينه دې رووړې دي. ښه ښه په خپست کې داسې کيسې دي.
زرخان: يه؛ په خپست کې داسې کېسې دي، ښه ته خپله خرګې يې، چېر ته ايسېرګې او دولته څه کور کې، کير دې چېرته دی.؟
خان زرک : شکر دی زه ښه يم، زه دولته په دغه ښار کې ايسيږم. کير مې داسې نيم ساعت د دې ځوی نه لېرې دی. دولته په يوه دفتر کې کور کم، کهيځ وختې ځم، وګه نووخته کير ته ارځم. دولته تيل خلک په خپلې کوړې کې سره اوخته او ورک دي، ملګريه، د هيچا سره دولته وخت نېشته.
خان زرک: زه خو ايس ډېر وګې شوی يم، اول به مړی روغوړې، بيا به په ورې ورې خپله جمع سره کوو.
زرخان: سمه دو.
خان زرک: دغه هم د مړی خوښولو پرچه يا د ,,مينو کارټ,, دی. پيګې چې د دغې افغاني هوټل څښتن يو ځدروڼ دی، دغه هوټل په دغه ښار کې ډېر مشهور هوټل دی، هر مښوم د خلکو نه سخت ډک کوي، د خدای مخليک ورته ارځي. دوی ډېر خوږه افغاني خروکينه پخوي او ښې په مې خيرني وريجې هم پخوي، زه خو نن ځونته خپلې په مې کې خېرني وريجې ارغوړومه، چې کورت، او د غو زېړو غوړ هم په کې وچاوې او د يوې سلتې سره ارغواړم. ګيرم چې نن مې کې وريجې ځومره خوند کې. د دې هوټل غوښه او مرې تپله حلوله دو.
زرخان: د مو خو پيلو ډېره خوښيږي. زه به د پسه غوښې سره د کوبلي پيلو، په غوړيو کې سرې شوې منګرېټې او سلته رواغوړم. مو ته خو د غوځکې غوښې شوروه هم خوند روکوي. خو زه نن خپل کوبلي پيلو ارغوړم، زړه مې ورته شوې دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خان زرک: مړي خو مو ایس روغوښتله، تر سي چې مړي ته یوړېږي او ارسي، تر هغې پېرې ته ایس دا راته وویه، چې په ځدرونو کې نیره څه کېسي رواني دي، د مېږ ځدرونې څه کې. زه خو ډېر وخت کیږي، چې ترینه هېڅ خبر نه لرم.

زرخان: والا چې داسې څه خاصې خبرې خو نښته، خو ته پوهېږې، چې ځدرونې ډېر کوربګر او خوربکنه خلک دي، ټپل کورېنه کې، دوی هم په کوري کې سره اوخته دي.

ځوک په منځکي کې اوخته دي، ځوک هره ورځ په بیسکل یا په مېټر کې کوړته خبست بزور لیري ته دریمي، هولته بزور کې شینه او سامنینه سره خرځوي، ځوک په دوتري کې کور کې، ځوک په عربو کې مېزدېري کي او ځوک دولته په اروپا کې کورینه کې، خو په ځدرونو کې ایس ډېرې ښې چارې او ابودی رووني شوي دي، پوخه سړکینه جوړ شوي دي. خلکې ژور ژور کهیې کیندلي دي، ښه دیکنیه، کسوبې، د رختي یا کولیو ستر ستر دیکنینه، مکتبینه، ښکلي جیماتینه جوړ شوي دي، د خېست ښار ډېر ستر شوي دی، خلک د یوه ځوینه بل ځوي ته په مېټرو کې ځي او ارځي.

خان زرک: د تو خپل وړکي لجینه شته، هغه ځرګې دي، مکتبې ته ځي که نه ځي. مېږ پلور دې ځرګې دي، ښه دي.

زرخان: لپنه او زامن مې اووړه مکتبې ته ځي. ښه په کې تکړه او خوشول دي. د مېږ پلور ډېر ریغ نه دی، داسي یوه میاشت کیګي چې په شپخونه کې پریت دی. ادې مې ښه دو، کله کله شپوخونې ته د مو پلور پیښتنې ته وېرځې، خو هغه خپله ډېره کمزیری شوې او زړه شوي دو، هر وخت مریضه پرته وي. دورې ډېر خوري. یو کشر وریر مې دی، هغه په منځکي کې یووي او کور کې. ایس چې زه راتلم د جورې لو ګډ وه، د جورو ستې سره سپیني کولي. هغې ته مو د جورو تریشل ارغوښتی دي، ایس د جورې تریشل کې.

خان زرک: دغه دو هوټلي خو مړی ته یوره کړه او رووړه. بسمیلو به په کوو. خپله جمع به کوو، مړي به هم خورو.

د مو لوبکی (قاب) خو یې د وېرړې نه داسي سخت ډک کړي دی، چې څه یې کاوې. په خدای چې ډېرې خوړې د مې وریېجې پخي دي. ښه په کورت غوړیو کې پخې کړي دي. غوښه یې هم ښه نرمه پخه شوي دو. ته خو د مو مړی لړ وځکه چې ځرګې خوند کې. په دغه قاشوغه یا څیمځکی لړ دروخله.

خان زرک: په غوري کې پیلو، په تتي کې د غوښې کورمه، بله تتي کې شنه او په یوه نېلبکی یا لوبکی کې سلاتې ډیر خوندې کې، د مړي بیه یې هم ډېره ښه ارزونه دو. بس خوره دورې دې شه، زه خو میر شوم.

## خان زرک: ځدرونه د عید په ورځ کې څه شي کي.؟

زر خان: د مېږ ځدرونې د عید په ورځ شودې چاې ویجرې ته راوسبوسي، ویرسره رینځکي، کیک، کلچې او میټایي هم وي. د کیر وړه ستر ټپل په ګده د ګهېځ چاې سره وخوري، د هغې نه بد سرې او مشرونو جومات ته سي، د عید لمینځ په جومات کې وکي. د لمونځه نه څټ ته بیا خلک کیری ته اردریمي، بیا د خپلو خولخونې او لپنې زامنې سره عید مبارکی وکي، بیا ویجرې ته اروځي، بیا ښې د مې وریږې ښیناکي اربوسي، ښه د غو غوړي او کورت په کې وي، په دسترخاني کې پینځه شېږ ښیناکې ایبنوي، بیا په هر ښینکي نې ځلوېر یا پینځه پینده کیني، یو ښینکي چې وخوري، بل ښینکي ته پینده ور بدلیری، هر پینده په نمبر باندې خپلي ښینکی ته بدلیري. د مړی نه څټ ته وړه وړکي لجینه پټاخي ټنکوي او خوشولی کو. بیا ژنکي ځي د کلي دیکاني ته هولته بیې سره ګتي، درې شپې ورځې د خلکې ښه ساعت تیر وي. د عید په وګاه باندې دغې ژنکی د خرې شپې خوړه هم پخوي، که چرګه وي، که پیلمرغه وي، ترینه یو خوندور سبات جووړي. ښه تروې پې د بودرنګ سره، مولګه او وچ ویلنې هم ورچولی وي. دا ډیر ښه خوند کو. مړي چې وخوري بیا ژنکي په خپل منځکي قسمه قسمه جمعي او لیبې سره کوو. د عید درې ښه خوړې شپې او وریځې داسي سره تیره شي...

## خان زرک: ځدرونې نن سبو ځرګې وروویې کي.؟

زرخان: د ځدرونې د وروویې جمع به هم درته وکم، په ځدرونې کې چې ځوک جینکي غوړي، هغه د یوه سړی او یوې ښځې یوه مرکه ورلګي. د مرکي ښځه جینکي کسي، چې جینکي یې خوښه شي، دغه ښځه سړی ته ویایي چې جینکي د مېږ خوښه دو. بیا دوی خپل کیر ته روشي، په خپلو کې سره وغږیږي، چې د پولنکی سړی لیر د مېږ خوښه شوه او مېږ دستې ورسره کو. د زی پلور د جینکې پلور ته ویرشي، چې یو وړکي لوس به سره په ونسي. د هغې نه څټ ته بیا د وړکی پلور چې جینکي ورته کړي دو. خپلې خویندې خورلنې، د کلي مشرون سره روغوړي، چې سبو ته د موړ ستر لوسنیوی دی. بیا د جینکې پلور پسه حلول


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کو، خلکي ته مړی پخه کې، بیا د وړکی خپل پردۍ د جینکې پلور کېر ته ویرشي، بیا چې کله مړی وخوري، د مړي نه ورسته مشرون د جینکې په پیر (ولور) باندې خبرې وکو، بیا د جینکی پلور پینځه لکه پیر وتړي، بیا په دغه وخت کې کیم مشرون چې د ورکې پلور سره تللي وي، دوی ورته وایاېي چې د میړ د پوره به څه ریپې ارکموي، بیا د مشرونې لپاره یو لک ریپې ورکمومي، چې پیر څلوېر لکه شي. بیا د هغې څټ د کلي مولو روغوړي، مولو د خیر یوه دعوو وکو. په ویجره نوست خلک یو بل ته د نوی دستی مبارکې وویې یا ویرکوي. ښځې درېې وهې، خوشولې کوو، ژنکې ډهلینه وهې، که ډهل نه وي، بیا ژنکې پیپوه وهې.
د ورو د پوره ورخې وریشي، بیا ورخې د جېنکې په کیر کې یوه شپه وکوو، بیا جېنکې کلیول د ورخې راوغلي خلک تنګوي، څوک رنګینه ورشړي، څوک ایرې ورشړي، دغه شپه چې تیره شي، بیا د ګهیځ چای او د بربزر مړي ورسره خوري، چې بربزر مړي وخوري، بیا جینکې د پلور د کیره اربوسي، مېټر ته وخیګوي، بیا چې مېټر رون شي بیا د کلي وړه وړکې لجنې پټک اوچولي وي، سبات خوړي، د وړکې پلور یا ورېر په موټر کې ناست وي، د وړکې لجینې د پوره یې مخکې د لس لس یا شل شل ریپې لوټېنه ته یور کړي ویرسره وي، هغه دغې ویلړول وړکې لجینې پسې ورکوي. بیا چې کله نووي د مېړه کیر ته ورسیړېګي او کله چې نووي د مېټر نه ارکیزوي، بیا د وړکی میر یا مشره خېر غړ وکې، چې دغه نووی تر لوس ونسوئ او په خپله کبته کې کینوئ، بیا د وړکې کیر واله سړي د تیپکو درې ورېنه وکې، نووې په دغه وخت کې په خپله کیټه کې نوسته وي، بیا چې کله ناووې کېنوي، په دغه وخت کې بیا یو وړیکې وړکی د نووي په غړ کې ورکي، چې نووي په بختوره شي. بیا نووي وړکې وړکی ته یو څه ریپې په لوس کې ورکو، بیا مزدیګر ته خوړه ته یور وي، بیا کیروله د کلي خلکو ته خبر وېر کو، چې مېړ د مزدګر لمونځه نه څټه ته خوړه ته یور کړي، وړه ستر دې تېل مړي ته ارسي. بیا چې کله خلک مړي وخوري، سره ریسخت شي، بیا ژنې ځواننو پاتې شي، څوک جمعې مجلیسینه کوو، څوک ډیلینه وهې، څوک سندرې بیلې، بس د خلکو ساعت تیر وي، بس په څدرونو کې د ورو خوشولي داسي خیل ته وي.
بیا چې درې ورځې پوره شي، بیا نووي اوبې ته اربوسي، کټوه یې په لوس کې ورکړي وي. د مېړ څدرونې ځیمونه خو په دغه وریځ ډېرشرمیږي، پټ پټ غلي غلي ګرځي، ځون په چا نه وینې یا ځون چا ته نه ورښیې. ځېم ته وایې چې ته دغه غوې سارو ته بیزه یا ژرندې ته لوړ شه، یا میږی وزې غره ته بیزه ویې پیایه، خو دغه عادتونه مخکې وختې کې وه، خو ایس عادتینه لړ بدل شوي دي. په ایس وخت کې ځیم د ولمنې خېزمت کوو، د ولمنې ستړی مه شي ته ویلوړ وي. د مړي په وخت کې ځیم کیزه چلمچې یې په لوس کې نیولي وي. د ولمنې لوسیۍ ته اوبو روچوي. ځیم د روغلي خلکې په خېزمت ویلړو وي. بس چې مړی وخوړل شي، ځیم نوی جومې واغوندې، بیا د ځیم ملګري راوغلي وي، د ځون سره ګولون هم راوړي وي، بیا دوی خپل مجلسینه سره جوړوي.
زر خان: بس دو د څدرونې د عید او وروري جمعې مې هم درته وکړې.
خان زرک: ډیر ښه مړې خو مو ښه خوندوره وخوړه، ښه خوند یې وکا، ښه جمعه مو وکړه. ته د مو ولمه یې، د مړې پېسې زه ورکوم، نیره به د شپې د پوره په مېټر د مېړ کیر ته لوړ شو.
نور بیا ...

د لیکوال: آرشیف


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ